# محفل د شعر له سپوږمۍ ته ځمه

(د محمد اقبال اقبال د ژوند او فن مختصر جاج)

حضرت زبير زبير

استاد شاعر اديب، ډرامه نګار او افسانه نګار خدائے بخښلے محمد اقبال اقبال د اګست په دولسمه نېټه کال ۱۹۴٤ کښې د مردان ښار په مشهوره کوځه بابو محله کښې د شېرمحمد کره زېږېدلے ؤ. تر لسم پورې سبق ئې په ګورنمنټ هائي سکول نمبر ۳ کښې ووې، بيا وروستو ئې د پرائيوټ امېدوار په حېثيت څوارلسم د پېښور يونيورستۍ نه وکړو. د ايکسائز اينډ ټيکسېشن په محکمه کښې ئې څۀ موده کار وکړو. بيا ئې دغه نوکري پرېښوده او بهر ملک ته د مزدورۍ په تکل لاړۀ. په کراچۍ کښې ئې هم څۀ موده تېره کړې وه. د مردان په ګجوخان روډ ئې د کپړې کاروبار کوو، چونکې د ډېرې مودې راهسې ناروغه ؤ نو د خپلې ناروغتيا له کبله ئې دغه کاروبار هم پرېښودۀ، دې خودداره او د ويښ ضمير او ناقلاره زړګي څښتن په ډېرو کړمو سختو او ګرانو حالاتو کښې د پښتو ژبې او ادب د پښتون اولس د حقونو دپاره ژوند تېر کړے دے.



دے کۀ يو خوا د انديش شمس القمر او ډاکټر اسرار د چوتې يار ؤ، نو بل خوا ئې د بې شمېره شاګردانو ډاډګېرنه او حوصله افزائي هم کوله.

په مردان کښې ادبي هلې ځلې، د کتابونو مخ کتنې، مشاعرې او د نورو ادبي غونډو سرخېل ؤ. د اولسي ادبي ټولنې مردان د ستر سېکټر په حېث به ئې د پښتو ژبې د حق دپاره آواز پورته کولو.

نوموړي قلم کار د پښتو د شاعرۍ دوه کتابونه پلوشه "آدم جي اېوارډ" او "د لېوالہ محبت د رباب ترنګ" په نومونو چاپ کړي دي. د شعرونو نمونې ئې دا دي:

وطنه خوب مې ليدۀ ستا د سحر
دورانه لرې له تعبير دې کړمه
محفل د شعر له سپوږمۍ ته ځمه
اقباله دومره هواګېر دې کړمه

---

ما ورته وې د کوځې ځم خو کلے نۀ پرېږدمه
په دې وړه شانې خبره ئې تلۀ راتلۀ پرېښې دي
د اوښکو ځاځکې ځاځکې پاشي مې په ځلي خلق
خپل پردو ته مې د ژوند خوارۀ تراخۀ پرېښې دي

---

هر څۀ چې کېږي نن دې وشي د تقدير مالکه
دم په دم مرګ دے د نېټې قضا ته نۀ شم کتے
ماله کۀ نۀ راځې دې اوښکو پښتنو له راشه
نور په بهو د پشکال ځلا ته نۀ شم کتے

وخت پـه وخـت ئـې د پاکستان ټيلي ويـژن او ريډيو دپاره سندرې هم ليکلې دي. تقريباً د پښتو ژبې هر نامتو سندرغاړي د هغهٔ په کلام د خپل آواز خواږهٔ په لر او بر پښتونخوا خوارهٔ کړي دي.

تـهٔ دې پــه شـمله کښــې ګـلان وټومبــه
زهٔ بـــه لوپټـــه پـــه بلـــې بـــاد کړمـــه
تهٔ رانه مهٔ ځه د شمکورو شپو سحر لالیه
بيـا بـه دې ځـهٔ لارې څارمـه مسـافر لالیـه
د زړګي سر لالیه

د شاعرۍ نه علاوه اقبال صيب په پښتو نثر کښې هم ډېر ګټورکار کړے دے. د ټيلي ويژن دپاره ډرامې، په بې شمېره کتابونو ديباچې، تبصرې او مقالې ئې ليکلې دي.

د افسانو کتاب ئې "د تلې پېرونه" په نامه چاپ دے چې په هغې کښې د ټولو نه وړه افسانه څهٔ په دې ډول ده.

ژوند - زما د مرګ په درويشتم کال، زما زلمي زوي د آزادۍ پـه جنګ کښې ځان شهيد او زهٔ ئې ژوندے کړم. ۱۹۷۳ د "تلې پېرونه".

د دې ترقي پسند شاعر او اديب په هر ليک کښې د خپلې ژبې او خپل اولس د حقونو دپاره نهٔ ستړې کېدونکې جذبات او احساسات به تل تر تله ستائلي کېږي.

د سياسـي کـارکن پـه حېثيـت ئـې د عـوامي نېشنل پارټۍ سره دم په دم او قدم په قدم ملګرتيا پـاللې ده، سياسـي کارکنـانو او ملګـرو بـه تـرې ګټورې مشورې اخستې.

خدائے بخښلے محمد اقبال اقبال د مارچ په يوويشتمه نېټه کال ۲۰۰۹ په حق ورسېدهٔ، په خپله پلارنۍ هديره سېد جلال بخاري صيب کښې خاورو تـه وسـپارلے شـو. پـه جنـازه کښـې ئـې سياسـي، سماجي، کاروباري حلقـو نـه عـلاوه چـې کومـو شاعرانو او اديبانو برخه واخسته په هغوي کښې انديش شمس القمر، ډاکټر اسرار، رحمت شاه سائل، عبدالسبحان خان، مجيدالله خليل، ماصل خان آتش، ډاکټر خالق زيار، نورالبشر نويد، محب الله شوق، مشتاق مجروح يوسفزے، م-ر شفق، اسرار د طورو، منظور باچا، مهرباچا، نورالامين يوسفزے، اقبال شاکر، مهر انديش، غلام حبيب، عزيـز مـانېروال، ډاکټـر همـايون همـا، ډاکټـر زبېرحسرت، شعيب صادق، مامون الرشيد رشيد، هارون الرشيد خټک، محمد سعيد، سهيل خټک، حسـن حسـاس، ايـچ ايـم رضـا، نورالرحمـان سـحر، ياسر علي باچا، عثمان مردانوي، افضل شاه، اورنـګ زيـب نسـيم، نورالانـوار مـانېروال، فـيض الوهاب فيض، عبدالروف عارف، مراد باچا، وصال قريشي، عزيز انور، ماسټر شېر افضل، طلا محمد شباب، فضل الرحمان فجي، ظفر خان ظفر، فقيرشاه فقير، ميا وکيل شاه فقيرخېل، لعل باچا خيالي، منفعت مانېروال، فاروق قريشي، علي اکبر سيال، عبدالحميد زاهد، غمګين معيارے، اقبال حسين افکار او نـور ګڼ ملګري شامل دي. د پښتونخوا وزيراعلي امېرحېدر خان هوتي په خپل يو اخباري بيان کښې د غم څرګندونه او د هغوي د سياسي او ادبي خدماتو ستائنه کړې ده.

د پښـتو ژبـې او ادب دې بـې بدلـه شـاعر او اديب او د پښتون اولس په غم غمژن محمد اقبال اقبـال لـه دې الله تعـالي پـه هغـه جهـان کښـې نـهٔ

ختمېدونکې خوشحالۍ ورکړي او د هغهٔ پسمانده
ګانو له دې د صبر توفيق ورکړي. امين.
اقبال چې د ماحول د درد بدلي احساس سوے دے
اقبال چې لکه ګل د خپل ارمان په قبر توے دے
اندېش شمس القمر